پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

# په پاکستان کي دکینې اړخو ګوندونو اوغرځنګونو لنډ تاریخچه

*************

# دریمه برخه

## د(۱۹۶۹-۱۹۶۸ ) کلونو پوری انقلابی تحرک«جنبش

دجنبش اود تحرک و په موده کي چي څو میاشتنی پوري دوام وکړ په موازی بڼی سره دعمل دوه قویی ( ځواک) زیدخل وه له یوی خوا دهیواد کنترول دکارګرانو اوبزګرانو په لاس کي وه اودبلي خوا څخه د پرولتاریا درهبری په نه موجودیت سره دولتي اپرات د بورژوازی په لاس کی وه . دغه جنبش او خوزښت دبوری (شکر) دقیمت د لوړیدو په منا سبت پیل شو، اودهمدی خوزښت سره زده کونکی هم یوځای شول، په نوموړي حرکت کی دراولپنډی دپولي تخنیک دپوهنځی څخه یو محصل چي عبد الحمید نومیدل مړ اوخپل ژوند په دغه اعتراضی مظاهره کی دلاسه ورکړ

د جنبش اودحرکت سپرغي (جرقه) په ټوله ټولنه کي خپل لمن وغوړول، پرولتاریا هم ددغه حرکت اوجنبش سره یوځای شول، کارګرانو پوستی اوفابریکي ترخپل څارني اوکنترول لاندی ونیول، بزګرانو هم را وچت شول، داعتصاب دڅارنی کمیته جوړشوښارونه تر کنترول لاندی راغی، دفیصل آباد په صنعتي منطقه کي دمنطقي اداره کونکی څانګه په دی لټه کي شول چی د منطقی درهبر ښاغلي مختاررعنا اجازه ترلاسه کړی چی د مالونو دانتقال دپاره دهغوي په اختیارکی موټر اوترانسپورتي وسایط ولویږی، دولتي سانسور کاملاْ مات شول،داورګاډی پټلی دانقلاب د پیغامونو او د دستورونو د هیواد په سرتا سرکی دانتقال دنده تر لاسه کړل، کارګرانو د خپل ترمینځ د روابطو دټینګولو نوی اختراعات اومیتودونو ته لاس بری پیدا کړل. د یادونی وړ مطلب دا دی چي دغه وضع پخپله یوه نوی پدیده وه کوم چي له آسمانه نه وه راکوزه شوي اوهغه داچي د هیواد صنعتی کیدل، د زبیښاک، اود ظلم اوستم شد ت هغه شاخصونه وه کوم چي دبی وزلی (فقر) اود بډاینی (ثروت) ترمینځ واټن لا پسي زیاته کړل، اوپه روښنا نه بڼی سره تغیر

اوبدلون ترسترګو شو په کال (۱۹۶۰) کي د حاکمی طبقی د چور اود چپاول اندازه ډیر شدید شول، د مثا ل په توګه دډهلی دهفته نامي په قول سره د د یکتاتور آیوب دکورنی د پانګي اندازه (۲۵۰) میلیون پاکستانی کلدار اټکل شو، اودا بی له هغو شتمنی او پا نګي څخه وه کوم چي هغوی په دباندی بانکونو کي زیرمه کړي وه، اود بلي خوا څخه په ورته بنی سره د پاکستان د ( ۲۲) کورنیو د پانګی اچونی اندازه اوسهم په صنعت کی (۶۶٪) په بانکونوکی(۸۰٪) په بیموی او نور تجارتي معاملاتو کی (۹۷٪) وه کوم چي د هغه په مقابل کي د پاکستانی دیوی کارګری کورني د میاشتی عاید ( ۷۸۰ کلدار) وه چي په هغه وخت کی (۱۶) امریکایی ډالر سره برابره وه . په (۱۹۶۷) کي داورګاډی دپټلی کارګرانو له هرچا نه لمړی په اعتصاب باندی لاس پوری کړل، مګرد پاکستان رسمي ا تحادي د پاکستان د صنعتی کارګرانو داعتصاب سره خپل مخالفت ښکاره کړل اوپه عین وخت غیر رسمي اتحا د يي چی د هغه مشری د کمونستانو په لاس کي وه هم د کارګرانو د اعتصاب سره مخالفت وکړل، اوداځکه چي هغوی د ( ضد امپریالیزم) له طرفه ملا تړ کیدل او دبلي خوا څخه آیوب خان هم ونه غوښتل چي د اورګاډی د پټللی دکارګرانو کمیته جوړه شی چی هغوی پخپله په یو لړ اقداماتو لاس پوری کړي . دولت د دغه تظاهراتو د مخنیوی د پاره له هیڅ ډول زور زیا تی څخه صرفه ونکړل، هغه یعنی دولت داعتصاب کونکي ځني مطالباتو ته مخکی له اعتصابه کوم چي کارګرانو، بزګرانواوټول زده کونکو داعتصاب دپاره خپل چمتووالی ښکاره کړی وه غاړه کیښود مګر په دی وخت کي کیني اړخ ځواکونه لاترهغه وخت ددوه مرحلوی تیوری خوبونو کی پرتی اوچتیاټ ویل او په دی هیله وه چی مترقی بورژوازی به بورژواژی دموکراتیک انقلاب به تر سره کړی . دنیشنل عوامی ګوند مشرښاغلي پروفیسور« مظفر احمد» دحالاتو اود پاکستان د سیاسي وضع په اړین خپل لړلید توضیخ کړل هغه وویل چي زما هد ف دهغه عینی شرایطوڅخه دی کوم چي د سوسیالیزم د پاره اوس په پاکستان کي مناسب شرایط نه دی چمتو شوي بلکه لمړی باید د بورژوازی د موکراتیک دپاره شرایط مساعد شي په پاکستان کی لا هغه شرایط نه دی چمتو شوی چي سوسیالیزم ته ګذار وشي، هغه زیاته کړ چی دسویالیزم دانقلاب دپاره مراحلوته ضرورت لیدل کیږي او مونږ د هغه مرحلی د پا ره یعنی د سوسیالیزم دانقلاب دپاره یو ستر انقلابی ګوند ته ضرورت لرو .

د پاکستان دخلکو دګوند جوړیدنه : د پاکستان د خلکو ګوند د سپتمبر په لمړي ورځ کال ( ۱۹۶۷) کي جوړ شو، اودهغه پروګرام او کړنلاره یا مرامنامه په یو رادیکا ل سوسیالیستی اند یبنني باندی ولاړ وه اود پاکستان د کمونیست ګوند یو مشر ښاغلي جی۰ا- رحیم ددی ګوند مانیفیست یی ولیکل، ذوالفقارعلی بوتو ( د بینظیر بوتو پلار) د دیکتاتور آیوبخان پرضد سیاسی ډګر ته را داخل شو، کمونیستانو ( دواړه د ماسکو استالینستانو اود ماویستانو پلویان ) دآیوب خان څخه ملا تړ کول، حال داچي بوټو د پرګنو داحساسا تو څخه استا ذیتوب کول، بوټو پخپله یو فیوډال سردار اود سند له ایالت

ځخه وه اود آیوب خان په کابینه کي د باند نیو چارو دوزیر په صفت دنده تر سره کول، هغه یعنی بوټو دسوسیالیزم شعار پورته کړ اود یو شمیر کیڼ اړخو سره یوځای شو اود پاکستان دخلکو ګوند یی جوړ کړ، کله چي آیوب خان وغوښتل چي دهغه پسي را واخلی اوله خپل مخ ځخه لری کړي هغه دمقاومت دسمبول په بڼه اغوښتی وه اودهغه محبوبیت په ګوند کی لا پسی زیات شوی وه چې دهغه له مینځه وړل آسان نه وه . دخلکو دګوند محبوبیت په واقیعت کې د (۶۹-۱۹۶۸) کلونودانقلابي جنبش پایله وه چې حتي د (۱۹۷۰) کاله ځخه مخکي دلمړي عمومي انتخا با تو کوم چي کاهلانو یاغټانو ته درای حق ورکړل شوی وه ډیرو پرګنو د دغه ګوند سره دهغه دسوسیالیستی پروګرام په لرلوسره یوځای شول او په عین وخت کي له دي نه چي نوموړي ګوند لاپسي غښتلی شودکارګرانو پیشوایان هم په (۱۹۶۸) کی ددغه ګوند سره یوځای شول . دا تصا د في اویا یوناڅاپی نه وه چی د پاکستان د خلکوګوند په یوه استعماری نړي کي په یو پرګنیزګوند واغوښتل، یعنی یوائنی ګوند چي دخپل سوسیالیستي پروګرام په درلودلوسره دخلکوپه مینځ کي محبوب شواودا پخپله د سوسیالیستی بدلونونو د ضرورت ښکارندوی وشو مګر دپاکستان کیڼ اړخو ځواکونو چي په معمول بنی سره دحالاتو په ارزیابي اوشناخت کی پاتي راغلي دي نودهمدی عدم شناخت په نظرکي نیولوسره هغوی رادیکال بورژوازی تغیرات د بوټو اودهغه دګوند په وجود کی لیدل او په همدی بنیاد سره په عوض ددی چی یو چپ سازمان جوړ کړی او په طبقاتي مبارزه لاس پوری کړي له بوټوځخه خپل ملاتړاعلام کړل اوپه واقیعت کی د فیوډالیزم او کپیټالیزم د استازی یعنی دبوټو سره روغه جوړه وکړل اود کارګري طبقي ټول ارمانونو دبوټو ادهغه په ګوند کي کوم چی هغه یعنی بوټو یواځی سوسیالیستی شعارونه ورکول لیدل حتی تردی چی دهغه رهبری یی ومنل او د بوټو حزب یی د کارګری طبقی د حزب په نوم ونومول اوخپل بشپړ ملاتړ له هغه ځخه اعلام کړل . دپاکستان دخلکو ګوند له دی نه چې رادیکال سو سیالیستي پروګرام پلي کړي دهغه په عوض بورژوا دموکرات پروګرامونو ته مخه کړل اوپه دی وجهی سره دګوند بنی اړخ برخه هم خپل ملاتړ ددی نوی بورژوا دموکراتیک برنامی سره اعلام کړل اوددی اقدام سره سم د ګوند د کین اړخو پر انقلابي ایدیولوژی باندی برغولی کیښود ل شویعنی دهغو ډلوپر نظریاتو کوم چي هغوی د ما سکو اود پیکنګ د خارجی سیا ست پلویان وه . کله چي د پاکستان د خلکو ګوند په (۱۹۷۲) کی په قدرت ورسید زیاتو کمونیستانو ددغه دولتي ګوند سره یوځای شول لاکن دپاکستان د خلکو ګوند پخپل پروګرامونو کی هیڅ ډول تغیر اوبدلون راونویستل بلکه یولړ جذری ریفورمونو ته مخه کړل کوم چی دهغه پربنیاد د پاکستا ن کارګران یی له دروند خوبه را ویښ او له واسواس ځخه را وویستل اوهغوی یعنی د پاکستان پرولتاریا د می د میاشتی ځخه تردسپتمبر میاشتي کال (۱۹۷۲) کی د مظاهراتو د پاره پرله پسی کوڅوته را ووتل کوم چي د دی مظاهراتو شد ت په کراچي کي ډیر زیاته وه دپاکستان دولت پریکړه وکړل

چي د دی مظاهره کونکو سره ټکر وکړی اودهغو مخه ونیسی په ګاندي او کراچي اونوروځایونو کی ددولت اود مظاهره کونکو ترمينځ په اخ اوډ ب کی ډ یرو مظاهره چیانو خپل ژوند دلاسه ورکړل دغه قهرجن کمونیستا نوکوم چی ددولت سره یوځای شوی وه ځنویی د مظاهری له لیکو څخه راووتل او استعفی ورکړل شاید چی هغوی له یاده ویستلی وه چي سرمایه داری دولتونه ته دامهم نه دی چي په یووخت کی څومره تغیرات اوبدلونونه مینځ ته راځی بلکه هغوی یعنی پانګوالي دولتونه تل په دی لټه کی اوسی چي پرولتاریا څنګه وځپی او په څه ډول دما تي سره مخامخ کړي . بوټواود پاکستا ن دخلکو ګوند له اوهامو څخه په خلاصون سره دګوند کین اړخ ځواکونو دیوشمیر مترقی بورژوازی تر شا ودرید اودځنو ډار اود توهماتو په درلودو سره د کارګری طبقی دپلوی له موقف څخه ووتل اوپه ډی ډول هغوی وغوښتل چي دفیوډالانواودسرمایه دارانودرهبری له منګولوڅخه ځان وژغوري په دی وخت کی دګوند کین اړخ ونتوانید چې کوم الترناتیف(بد له ) وړاندی کړی نو په دی اساس کله چي د ګوند راسته اړخ له یولړ اوهامو څخه راووتل نوراسته اومتعصب ډلی دارتجاعي قوتونو سره په کال (۱۹۷۷) یوځای شول اود خلکود ګوند ځای ناسته شول اود دولت په مخا لفت سر راپورته کړل کوم چی دغه حالات اویا ددغی حالاتو اصلنی عوامل اقتصادی وضع اود متحده ایالاتو لاس وهنه وه چی ددی وضع د موجباتو زمینی یی برابرکړل، کینې اړخو دجنبش په سرشت اویا دهغه په مضمون باندی پوه نشو اودجنبش درهبری نیت یی ونشو کړلی چي تحلیل کړي نو په دی اساس هغوی یوډول آزاد دموکراتیک حرکت اوجنبش ته مخه کړل اودکارګروله طبقی اودهغوله پلویانوڅخه وغوښتل چي دهغوی سره په دی جنبش کی یوځای شي . په هرصورت دویلو وړ مطلب دادی چي داپریل دمیاشتي په دوه لسمه نیټه کال ( ۱۹۷۷) کی د حیدرآباد له جیلخانی څخه چینی پلو معراج محمد خان د محاذ دآزادی غوښتونکی ګوند مشر، شیرمحمد مری ا وعطاوالله خان منګل ماسکو پلووبلوچي ناسیونالیستورهبرانو په یوخطابیه وینا اوغوښتنو سره له کارګرانو، زده کونکو،روشنفکرانواوله ټول پرګنوڅخه وغوښتل چی دخلکو دروان جنبش سره یوځای شي، هغه جنبش کوم چي ددموکراسی آزادی غوښتونکی محتوی اومضمون لری مونږ په دی باور یو چي دغه جنبش به زمونږ مورنی هیواد له روان د یکتاتوری رژیم څخه وژغوری هغوی په دی باوروه چي د دغه راولاړ شوي افراطی ډول ډلو ټپلو په هڅه اواند سره به دهغوی مورني هیواد د بوټو د دیکتاتور ډول رژیم له منګلو څخه به خلاص شی، ځکه چي دهغوی په اند دغه موجوده دولت نه دسیاسی اونه دټولنیز قوانینو له مخي یو آزاد دولت دي . دمتعصبو ډلوټپلو کوم چي دهغوی تر شا متحده ایالات ولاړ وی د دموکراسی طمعه کول بیځآیه اوغیر منطقی وی، نو په دی اسا س ددغه رهبرانو اودهغو دپلویانو تحلیل بلکل بیځایه اوله منطقه څخه لری داوبو پرسر لیکه شول که دیوی ځوا څخه دهغوی مورني هیواد دبوټو له دیکتاتوری رژیم څخه خلاص شول نود بلي خوا

ثخه بيرته د يو متعصب افراطي مذهبى ديكتاتورى تر قيادت لاندى راغي يعنى د جنرال ضيا والحق تر زعامت لاندى كوم چي له بد و ثخه بدتر شول .

---

په درناوى

## ثلورمه برخه

## په دوام

## چپ په نولس سواتياوم كال كي :